



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!




د محب الرحمن « خطيبي » ليکنه
د نشر نيټه : ۱۰ جون ۲۰۱۳ ميلادی

ګرانو دوستانو :
هيله کوم دا شعر ولولي تر آخره يي ولولی!
ډير ښکلی شعر دی . د سيراليون نامتو شاعر ګاستون بارت – اوليامس ۱۹۳۸ دا ښکلی شعر ليکلی چی ما وژباړه.... محب الرحمن « خطيبي »

## د تور زوی ليک مورته له ويتنامه

ګرانی مور ،
الحمدالله ،
ما ځو ويتناميان ووژل،
او سپين کپتان
ماته ووېل آفرين
ته قهـــــرمان يی ،
او کله ډير زياد ووژنم،
نو هغه هرومرو ماته مدال راکوی
نوبيا نور هم ډير وژنم دا ويتناميان
چی بيا کپتان هرومرو زما انظور ورځپانو کی خپروی
او ته په ما ، پخپل زوی فخر به وکړی،
دټول امريکا قهرمان !
دلته هيڅوک تور ته ده رنګ په خاطر څه شی نه شی ويلی
د جنګ په ډګر کی د رنګه نژاد* مړی پراته دی
تاسو خبر ياست چی : کاسيوس کلی * حاضر نه شو ويتنام ته راشی
ولی ، ستا زوی قهرمان دی،

او که نور هم ډیر خلک ووژنم
نوښما نوم به سپینی ماڼی ته واستول شی
کیږی ولسمشر ځما نوم وپیژنی
کیږی کوم ورځ پخپله ماته مډال راکی
او ووایی.-
امریکا په تا فخر کوی
« خدای تا سره دی بچیه »
او زه به پخپل مډال نازیږم پخپل ښار کی
په دیترویت ، نیویارک او الباما کی -
او زه وینم تور مړی په وینو ککړ
او خپل مړه شوی ورونه به می ویتنام کی په یاد راولم.
گرانی موری،
توری موری
خپل تور زوی ویتنام کی وبښه!
زه کاسیوس نه یم،
وبښه
زه خو، ته پوهیږی چی محمـــدعلی نه یم ،
زه بلاخره ښه پوه شوم،
چی زه ناپوهه
بیسواده
بی عقله
او همداسی نور یم
څه چی زه دلته کووم
هغه یوائی له دی لپاره چی
امریکایی شم،
باعقله،با کلتوره
ریښتینی بچی د امریکا
ته پوهیږی مورجانی -
که رنگ د پوټکی می تور او ویختان می تاو،پیچ نه وای
زه به ډیر خوشبخت هلک وم!
کنی جوړ شوی ویختان سل ډالره خرڅیږی
او د سپینولو رنگ کریم بیه پنځه ډالره ده
او که دا شیان هم مرسته ونه کړی
نو ښه به داوی چی
مورجانی
همدلته پاتی شم ، د اجنبیانو قبرستان کی
او که زه دلته مړ شم
ته پوه شه
چی زه دلته امریکا لپاره مړ شوم
طالع مند به یم که چیری د امریکا بچی وشمیرل شه

او که زه جګړه کی
لکه په
نیویارک کی
یا میسیسی پی کی
یا دیترویت کی
او یا په چیکاګو کی
یا هر بل ښار کی مړشم
نو پوه شه مورجانی
چی ولسمشر ما به قهرمان ونه بولی
او ځما سپین کپتان
به ما آسمانونو ته جیږ نه کړی
ځما کوندی به ما پسی دغم بدلی نه وایی
هغوی به وایی ښه به وو چی ،
ستا زوی په ویتنام کی وژل شوی وی
وبښه موری ،
زه پوهیږم ،
چی زه بی عقل یم
نا پوه یم
او بي ادبه او شډل یم
زه پوهیږم
زه ډیر ښه پوهیږم
زه باید خپلو وطنوالو سره مرسته وکړم
چی د ویتنامیانو د نابود کولو پلان
سر ته ورسیږی.
ما پسی مه ژاړه
توری موری،
ځما امریکانیزم باندی مه ژاړه
بلادی امریکا پسی!
ددوی ډزی نه آرامیږی
ددوی نفس ښکل اوس هیروشیما ته هم ورسیده
دد وی د غړمبهار آوازونه په افریقا باندی آلوزی
په یاد راوله موري
هر چیري چي زمونږ ورونه اوسی هلته به ددوی چیغی آوریدل کیږی
او تاته ښه معلوم دی علت
چی ده څه لپاره او ولی .
له تا ببننه غواړم
ګرانی موری
ستا تور بچی
باید هر څومره چی کولای شی ویتنامیان ووژنی !
پوهیږی ته موری؟

زه دلته ګواکی آزادی لپاره جنګیږم
زه دلته دخدای لپاره جنګیږم
پوهیږی
زه زړور یم چی دلته ویتنامیانو سره جګړه کوم
زه دلته د مرمیو د آلوتلو غږ آورم
زه بیا او بیا د ویتنامیانو وژل زیاتوم
مهربانی موری
دا ربښتیا ده چی زه دی پردی ملک کی مرګ غواړم
په دی پردی قبرستان کی
له دی نه چی په نیویارک کی مړ شم
پوهه شوی یی چی ولی داسی عجیبه هیله لرم !ته خو به
ګرانی موری ته پوهه شه
چی ستا زوی په ربښتیا
بی ادبه ، بی عقله
ناشکره او بیرا دی
او سربیره په دی دهرچا په خبره ، لوچک او لنډغر دی
خدای دی تا وبښی موری !
پوهیږی مورجانی
زه هغو خلکو ته احترام او دراناوی ساتم
چی خپل روح خدای ته خپل کور کی ورکوی
خپل بستر کی.
اونه پردیو ملکونو کی......
په تا ګران زوی
بی ادبه ، بی عقله
نا شکره او بیرا دی ....

******

* رنګه نژاد ـ ویتنامیان او دهند وچین نژاد
*کاسیوس ـ دمحمد علی کلی نوم مخکی له مسلمانی نه

*****

محب الرحمن « خطیبی »

بازګشت به صفحه اصلی -www.said-afghani.org